sanofi

# ټول نوزيږي ماشومان

# د RSV احتمالي شديد انتان

# پر وړاندې ساتنې او خونديتوب ته اړتيا لري[1]

## RSV څه شی دی؟

RSV (د تنفسي سنسيټيال ويروس) يو عام تنفسي ويروس دی **چې له هرو دريو څخه دوه ماشومان له خپلې لومړۍ کليزې مخکې په ناروغۍ اخته کوي.**[3،2]

RSV معمولا په ژمي کې پيښيږي کله چې د تودوخې درجه ټيټه وي او په اسانۍ سره خپريږي.[5،4] دا همداراز تر انفلونزا ډير زيات ساري دی.[6]

په ډيری ماشومانو کې، دا ويروس يوازې **زکام ته ورته نرمې نښې**، رامنځته کوي.[8،7]

په هر حال، په ځينو ماشومانو کې، دا ناروغي کېدای شي سخته شي او د RSV شديدې ناروغۍ لامل شي؛ چې په دې کې **د سږو انتانات** هم شامل دي چې د ماشومانو تنفس ستونزمنولای شي.[9-7]

## د RSV مخنيوی ولې مهم دی؟

تقريبا **له هرو 10 ماشومانو څخه نږدې 4** هغه ماشومان چې پر RSV اخته کيږي؛ ممکن د سږو انتانات رامنځته کړي؛ لکه د کوچنيو تنفسي لارو يا **برونکيولايټس ناروغي يا سينه‌بغل.**[10]

RSV له 12 مياشتو څخه کم عمر ماشومانو کې **په روغتون کې د بستر کېدو** له اصلي لاملونو څخه دی.[13-11]

دا معلومول ستونزمن دي چې کوم ماشومان به د RSV له شديدې ناروغۍ سره مخ شي. له همدې امله، **ښايي هر ماشوم په روغتون د بستر کېدو له خطر سره مخ وي.**[13،9]

GEMEINSAM GEGEN RSV

**د RSV** (د تنفسي سنسيټيال ويروس)

**ماخذونه**

**1.** Demont C et al. BMC Infect Dis 2021; 21(1): 730. **2**. Walsh E. Clin Chest Med 2017; 38(1): 29–36. **3.** Glezen WP et al. Am J Dis Child 1986; 140: 543–546. **4.** Chatterjee A et al. Infect Dis Ther 2021; 10: p5-p16. **5.** Obando-Pacheco P et al. J Infect Dis 2018; 217(9): 1356–1364. **6.** Spencer et al, Journal of Theoretical Biology, Volume 545, 2022,111145, ISSN 0022-5193. **7.** Piedimonte G and Perez MK. Pediatr Rev 2014; 35(12): 519–530. **8.** Centers for Disease Control and Prevention (CDC). RSV in infants and young children. 2024. Available at: https://www.cdc.gov/rsv/infants-young-children. Last accessed: 22/11/2024. **9.** Meissner HC. N Engl J Med 2016; 374(1):62–72. **10.** Piedimonte G. Curr Opin Pediatr 2013; 25(3): 344–349. **11.** Leader S and Kohlhase K. Pediatr Infect Dis J 2002; 21(7): 629–632. **12.** Li Y et al. Lancet 2022; 399(10340): 2047–2064. **13.** Bianchini S et al. Microorganisms 2020; 8(12): 2048. **QR Code:** http://surl.sanofi.com/rsv-elternkarte.

# داسې انټي باډي شته چې کولی شي ستاسو

# ماشوم د RSV له شدیدې ناروغی څخه

# خوندي کړي.[1،6]

## له RSV انټي باډیو په وسیله غیرفعاله معافیت څه شی دی او څنګه کار کوي؟

ستاسو د معافیت سیستم انټي باډي جوړوي چې له انتاناتو سره مبارزه وکړي او تاسو له ناروغیو څخه وساتي.[2،5] نوي زیږېدلي او ډېر کوچني ماشومان نشي کولی خپلې RSV انټي باډي جوړې کړي، ځکه د هغوی د معافیت سیستم لا پوره وده نه وي کړې.[3،4]

له همدې امله داسې له مخکې چمتو شوې انټي باډي شته چې ستاسو ماشوم ته په مستقیم ډول ورکول کېدای شي. دا انټي باډي سمدستي کار پیلوي او ستاسو ماشوم د هغه د معافیت سیستم له فعالېدو پرته ساتي – دوی د خپل ماشوم د ساتونکو په توګه وګڼئ![1،3،5-7]

---

احتیاط: د انټي باډیو په وسیله غیرفعال معافیت د هغو واکسینونو په څېر نه دی چې تاسو یې ښایي پېژنئ، ځکه کله چې واکسین تطبیقیږي، د معافیت سیستم باید خپلې انټي باډي پخپله جوړې کړي. دا کار یو څه وخت نیسي او لا هم په نویو زیږېدلو ماشومانو کې په باوري ډول کار نه کوي.[8]



---

ستاسو ماشوم به کله او چېرته د RSV پر وړاندې خوندیتوب یا محافظت ترلاسه کړي؟

که زیږون د اکتوبر او مارچ ترمنځ وي: ستاسو ماشوم به تر زیږون وروسته سمدستي په روغتون کې واکسین شي.[1]

که زیږون د اپریل او سپټمبر ترمنځ وي: ستاسو ماشوم به دا معافیت د ماشومانو له ډاکټر څخه ترلاسه کړي، چې په اکتوبر میاشت کې پیلیږي.[3]

د نورو معلوماتو لپاره دا سکن کړئ

د ټولو نویو زیږېدلو ماشومانو لپاره د RSV انټي باډي اوس د اتریش د ماشومانو د واکسینو پروګرام کې وړیا شته.[8]

د RSV (د تنفسي سنسیتیال ویروس)


ماخذونه

**1.** Impfplan Österreich 2024/2025. https://www.sozialministerium.at/Themen/Gesundheit/Impfen/Impfplan-Österreich.html. Last accessed: 22/11/2024. **2**. Centers for Disease Control and Prevention (CDC). Immunity Types. 2024. Available at: https://www.cdc.gov/vaccines/basics/immunity-types.html. Last accessed: 22/11/2024. **3.** Lambert L et al. Front Immunol 2014; 5: 466. **4.** Esposito S et al. Hum Vaccin Immunother 2016; 12(7): 1700–1706. **5.** Simon AK et al. Proc Biol Sci 2015; 282(1821): 20143085. **6.** Centers for Disease Control and Prevention (CDC). RSV Vaccines. 2024. Available at: https://www.cdc.gov/rsv/vaccines. Last accessed: 22/11/2024. **7.** Verwey C and Madhi SA. BioDrugs 2023;37(3): 295–309. **8.** https://impfen.gv.at/impfungen/rsv. Last accessed: 22/11/2024. **QR Code:** https://www.campus.sanofi/at/gemeinsamgegenRSV.


GEMEINSAM GEGEN **RSV**


Sanofi-aventis GmbH، Turm A، 29. OG، Wienerbergstraße 11، 1100 Wien، Österreich

MAT-AT-2600597-1.0-08/2026